# که ته وغواړې، صبر وکړې او ستا لپاره به جنت وي، او که وغواړې، زه به له الله تعالی څخه سوال وکړم نو روغه به دې کړي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی: هغه عطاء بن ابي رباح ته وويل: آيا زه تاته د جنتيانو څخه يوه ښځه ونه ښيم؟ ما وويل: هو، هغه وويل: دا توره ښځه ده؛ پېغمبر صلی الله عليه وسلم ته راغله او ويې ويل: پر ما مېرګي راځي او زه بربنډېږم، نو له الله تعالی څخه زما لپاره دعا وغواړه، هغه وويل: «که ته وغواړې، صبر وکړې او ستا لپاره به جنت وي، او که وغواړې، زه به له الله تعالی څخه سوال وکړم نو روغه به دې کړي» هغې وويل: زه صبر کوم، او ويې ويل: خو دا چې زه بربنډېږم، نو له الله تعالی څخه وغواړه چې بربنډه نه شم، نو دعا يې ورته وکړه.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما عطاء بن ابی رباح ته وويل: آيا يوه جنت ښځه در ونه ښيم؟ عطا وويل: ولې نه، ويې ويل: دا توره حبش ښځه ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله، ويې ويل: زه ناروغي لرم او بې هوښه کېږم، او زما د بدن څخه يوه برخه لوڅېږي حال دا چې زه نه پوهېږم، نو له الله تعالی څخه وغواړه چې ما روغه کړي، هغه وفرمايل: که وغواړې صبر وکړه او ستا لپاره به جنت وي، او که غواړې له الله تعالی څخه به سوال وکړم چې روغه دې کړي، هغې وويل: صبر به وکړم، بيا يې وويل: نو له الله تعالی څخه وغواړه چې د بې هوښ پر مهال بربنډه نه شم، نو له الله تعالی څخه يې ورته وغوښته.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3160